کرمه ځاد

Kandahar. Kabul
Vol.3, No.7, Mizan 1341
(September 1962)

Kandahar. Kabul
Vol.3, No.8, Aqrab 1341
(October 1962)



د کندهار د افغان ملي بانک نوی جوړ شوی

کشت ؤ مات به ئې هرو مرو له روخه

د ژوند پاڼه دی سوه ژېړه هم پټوخه
د ځوانۍ لښته دی شوله زړه لوخه

چې ذی چاغ سپین چنغړك سو ګنجی ګنجی
ګلوه لنډ لنډ نفس ډېر ټوخه ټوخه

چې ذی ایښی ذ ژوندون سره شطرنج دی
کشت ؤ مات به ئې هرو مرو له روخه

ذ اجل پیاله به تېره کی تر ستونی
که ترخه ده، که زموخته ده، که ستوخه

ذ تور قبر تاریکی له دې څه یووړه
چې په کور کی بېرېدلی بهله اوخه

و هغه قادر حکیم ته شه په هیله
چې ئې خپل خلیل راویوست له تاروخه

دا ذی څه وکړه تر شعر دی لاس وکښه
څه به مومی له دې نوم، له دې رسوخه

«رحمت الله» په سپین مخ حشر کې جمیله
په ګناه ګنده، بڼه ئې کړې منسوخه

مرحوم «رحمت الله بابا»

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلوونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [میزان] او [عقرب]میاشتی
د ۱۹۶۲ میلادی کال د [اکتوبر] او [نومبر]میاشتی
د دریم کال ۷-۸ ګڼه

پرله‌پسې ګڼه [۳۱-۳۲]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی
په دننه مملکت کی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

زمانه د ترقی پر خوا روانه ده	په [۱] مخ کی
ادبی آثار	« [۳] « «
اراکوتی (ارغنداو)	« [٦] « «
ډله که ټولنه	« [۸] « «
بیا هم د مذکر جمع	« [۱۰] « «
[د زړه سره]	« [۱۵] « «
[خامخا به چوړشی دا د سپینو پښتنو وطن]	« [۱۷] « «
ښاغلی غلام نبی هونك	« [۱۹] « «
سپلۍ	« [۲۱] « «
د ناول اهمیت او پیدا ښت په روسی ادب کی	« [۲۲] « «
و ټولنو ته د تحول در انلو ستر علتونه	« [۲۷] « «
سور ګل	« [۳۲] « «

زمانه د ترقی پر خوا روانه ده

له هغې نېټې څخه چې انسان دغرو په غارو کې د هر ساده ژوند د راودې بیا ترڼ چې بنه اوړو مانیو کې استوګنه کوي د تاریخ په دې ټولو دورو کې چې بې شمېره پېړۍ ئې په غېږ کې نیولې دي

د انسان سره یو دایمي نه بدلېدونکی فکر موجود و هغه داچې په څه راز سره وګرای شي چې د ژوند مشکلات له مخه لیرې کړي او د خپل بقا او لذت دپاره لاری چاری وپلټي .

دهمدغه فکر په رڼا کې انسان په پېړیو پېړیو خواری ګالې ده او لا په پسې دی چې نور هم په دې لار کې برمخ ولاړ شي ځکه نه ارزوګانې پای لري او نه د بشري دماغ ابتکار او اختراع اړه

کوم حد تا کل کېدای شي . انفرادیت د همدې غرض دپاره خاتمه وموندله چې په هغه کې نه د ژوند نیمګړتیاوې پېره کېدای شوای او نه د ارزو پېښو سره مجادله کېدای شوای که څه هم په

انفرادیت کې ځینې آزادې موجودې وې خو انسان د خپلو مترقي افکارو د فشار او د ژوند د بهتري په منظور له هغه څخه نېږدې اوجمعیت ته داخل شو .

په جمعیت کې فردي فکر، ځانګړې خواهشات او د ژوند نور ممیزات منحل شول د فرد آرامي د جمعیت په آرام ژوند کې وغښتل شوه او د جامعې نېکمرغي د افرادو سعادت وشمېرل شو فردي خودسري له منځه ولاړې او انسان د جمعیت

د اخلاقو، د سانېرو او اقتصادي معاملاتو تابع شو. څرنګه چې فرد یت له روابطو څخه استغنا راولي او جمعیت د روابطو او تعاملاتو مجموعه تشکیلوي د اهم په دې غرض چې هغه د انسانی ضمیر بت راز

د تکامل په لوري د خوځوي او د ژوند په حالاتو کې تحول راولي . او د هغه تحول په سیوري کې انسان خپل نیمګړي ارمانونه پوره او د خپل محیط چاري ترنظم او قانون لاندې راولي څو ښه

وګرای شي چې خپل تکاملي سیر کړندي کړي او ځان د مقصد و پړاونه ورسوي .

په دې کې شک نشته چې د تاریخ په اوږده زمانه کې پر انسانی ټولنو ډېر ناوړه حالات هم راغلي

دي چې هغه نه د انسان اصلي غایه وه او نه د جمعیت روح هغه منلای شوای که د اجتماعي تحولاتو و سیر نه ښه ځیر شو د هغه ناوړو حالاتو علت به هم د انسان په هغه فردي خودخواهیو کې وپلټو کوم

چې د له انفرادیت څخه وجمعیت ته په سوغات راوړل .

لېکن څرنګه چې اجتماعي شعور هغه منلای نه شوای او د جمعیت له روح سره سازګار نه وو

نو د هغو عواملو په ضد سختې مجادلې روانې شوې چې دې پېښو د تاریخ په استناد بوه ډېره اوږده زمانه په بر کې نیولې ده . ترڅو چې د انفرادي ژوند اخلاق، ممیزات او د فکر څرنګوالی په جمعیت کې حل نه شو ترهغو پورې ولسي ازادي

دخپلې مجاهدې څخه لاس وانخیست درسته ده
چې دعلم او مدنیت پر مختګ د اجتماعي شېرازې

دبقا باعث ګرزېدلی دی او جامعه ئې د باهمی
منافعو دپاره سره کلکه تړلې ده . خو څرنګه چې

دې راز ژوند هم دانساني انرژۍ څخه استثمارو
ګړاو دتېرو بېړیو دغلامی خاطرې بیا راژوندۍ

شوی نو ځکه اجتماعي وجدان ولړزېدی او دهغه
په مقابل کی ئې خپل سخت عکس العمل

څرګند کړ .
څرنګه چې دا عصر دماشین وو او ماشین غوښت

چې دخپل مالك په فرمان جمعیت دځان تابع کړی
او دهغو دزحمت محصول دجعلی قوانینو په اساس

په تاړاك یوسي څرنګه چې تر یو وخته پوری ئې
هم دخپلو مرستیالو په وسیله چې د ریا او تزویر

په جامه کی ئې دجمعیت د پاك ضمیر او سپېڅلی
احساساتو څخه ناوړه استفاده وکړه لیکن دا بار

هم د جماعت پر اوږو دروند شو او ولس په دې
وپوهېدی چې استعمار او استثمار په نوی پرده کی
زموږ و تباهۍ او فناته ملا تړلې ده . په دې وروستنی
عکس العمل کی جمعیت دانفرادیت اساسونه

بېخی له منځه ونړول او دانفرادیت له ژوند سره
ئې دهمېشه دپاره وداع وکړه . کله چې د

انفرادیت توری وریځی دجمعیت له اسمان څخه
شو په شو سوی نو دلته دحق او عدالت لمر وځلېدی

او هرچا خپل ځان او جهان ولیدی . سترګی
وپرانستل شوې حقیقت د شیونو وپلټل شو او

ذهنیتونه دانفرادیت دغلامۍ او خرافاتو څخه
آزاد شو . په دې روښانه ماحول کی انسان د

د ځان او کاینناتو هستی کشف کړه او د نوی
ژوند په دوره ئې پیل وکړ دغه دی چې ددې

روښانه ژوند مظاهر ورځ په ورځ انکشاف
مومی او د بشریت یوه زیاته برخه د خوږې

ورور ګلوی په لوری روان دی او د تکامل
پړاونه یو په بل پسې لاندی کوی .

نیژدې ده هغه ورځ چې دا لمر دی پر ټوله نړۍ
خپلی وړانګې وپاشی او جمعیت دی خپل

مطلوب پړاوته وروسته له ډېرو زحمتونو او

محرومیتونو څخه په نېکمرغی ورسیږی .

ا . م « کرزی »

بناغلی «آشنا»

آثـــــار ادبی

په هغه وخت کی چی د ادبی تعبیر د شمول ساحه محدوده وه او ادب و ننني پراخ والی نه نه ؤ رسېدلی خلکو هغه آثار ادبی بلل چی صنعتی قیمت به ئې درلودی، او هغه آثار چی صنعتی اوار نستیکی رنګ ئې نه درلود دادب یا ادبیاتو په جمله کی نه ګڼل کېده. دا تحدید نه یوازی په آسیائی ادبیاتو کی موجود وو بلکه په اروپائی ادبیاتو کی ئې هم اعتبار درلودی مثلاً هغه وخت چی د کلاسیک دوره په اروپا کی شروع وه هر لیکوال مجبور وو چی د یونانی او رومی ادبیاتو د اصولو پیروی وکړی او د خپل اثر په لیکلو کی د ځای وخت او عمل د یووالی مراعات وکړی دالاخره چی په جزئیاتو کی هم باید د هغو د افکارو او احساساتو تقلید وکړی کوم چی یونانی لیکوالو په خپلو آثارو کی راوړی وه اوچاچی به د رومی او یونانی ادبیاتو څخه پوهی نه درلوده دهغه اثر ادبی نه ګڼل کېدی. خو دونه خبره وه چی اروپائیانو دا قید د ادب له غاړی څخه پورته کی ولی چی د ۱۸ پېړۍ په سر کی چی د رومانتیک دوره شروع سوه نو فرانسوی، المانی او انګلیسی لیکوالو د کلاسیکی ادبیاتو د اصولو څخه مخ واړاوه او آزادانه ئې په هره موضوع او هر ډول الفاظو او کلماتو سره چی زړه ئې غوښتل لیکنی وکړی او بدې ډول ئې د ادب ساحه ارته کړه.

اما په ختیځو ادبیاتو دې وضعیت تر ډېره پېړۍ دوام پیدا کړ حتی تر اوسه لاهم ځای ځای د ادب له تعریفو څخه د ادب د دائرې تنګی او محدودیت ښه بریښی. مثلاً هغه نظم او نثر چی د ادبی علومو پر اصولو برابروی هغو ته ادبیات ویل کېږی، د عربو ځینو پوهانو به د ادب داسی تعریف کاوه چی [الادب هو حفظ اشعار العرب و اخبارها ولاخذ من کل علم بطرف] ادب د عربو د اشعارو او اخبارو یاد ول او د هره علمه څخه د ضرورت په اندازه برخه اخیستل دی چی مقصد ئې لسانی او شرعی علوم وه. یا ادبیات د ادباؤ د خیالی تولیدانو مجموعی نه وائی، عربو به ویل چی یو عامی تعبیر او عامی موضوع د فصیح شعر د یاره نه ښائی. عربی شعر باید د رو ندوی او د مشرانو په ذکر او ستاینه ډک وی نه د بازاریانو.

مسعود او ابن ندیم چی د عامی ادب ځینی کیسی لکه [الف لیلی] ولیدلی نو ئې به سپکه سترګه ورته کتل او هغه ئې په ادبیاتو کی داخل نه بلل ابو هلال عسکری چی د نامتو بلغاؤ څخه ګڼل کېږی لیکی: چی که یوه اوږده معنی به کښتو الفاظو سره ولیکل سی هغه

معنی خپله ښېګڼه دلاسه باسی او که بالعکس یوه کښته معنی په
اوږو الفاظو سره بیان کړه سی دا کلام فصیح او بلیغ بلل کېږی
که ودغو تعریفاتو او اقوالو ته ځیر سو او ادب ته د پخوانو په
سترګه وګورو دا به ښکاره سی چی پخوانو هغه لیکونه او وینا وی

ادبی بللی چی هغه به د خلکو د یوې مخصوصی طبقې دافکارو
محصول وه، یعنی که چا تصنعی او د ادبی علومو مطابق وینا کړی
وای یا ئې د خپل وخت پر ادبی مقتضی برابر څه لیکلی وای هغه
ته ادب ویل کېدی او دا وینا یا لیک به د ادبیاتو په جمله کی شمېرل

کېدی او که له دې څخه ماسیوا وای نو دغه وینا یا لیک غیر ادبی
او معمولی بلل کېدی چی له دې لامله نو د ادب او ادبیاتو ساحه
محدوده وه.
مګر په اوسنی عصر کی لکه نور ټول علوم چی پر مخ تللی دی مختلف

شقونه او بیلی برخی ئې موندلی دی ادب هم دغسی تطور موندلی
او په نوی رنګ رنګېدلی دی د پخوانی محدودی دائرې څخه وتلی
او ډېر ارت سوی دی او نسبت و پخوا ته خورا ارت مفهوم لری لکه
د ځینو پوهانو تعریفونه چی دا خبره ښه ثابتوی مثلاً یو عالم وائی

[ادب دانسان د ژوندانه تفسیر دی] بل وائی [هغه ابدی او
سرمدی قوه او شیان چی قدرت انسان ته ور کړیدی د هغو و
ښکاره کولو او اظهار ته ادب وائی] له دی څخه معلومیږی چی د
ادب احاطه اوس ډېره پراخه ده، څانګی او ښاخلې ئې دومره

ډېری سوی دی چی حتی ځینی پوهان اکثره علوم په ادب کی داخل
ګڼی مثلاً یو غربی مفکر وائی چی، ادب فقط دوه ښاخه لری که
له عقله سره اړه ولری [ساینس] ئې بولی او که له خیاله سره اړه
ولری نو [شعر] بلل کېږی چی په دې ډول نو مثبت علوم او ساینس

هم د ادب له دائرې څخه نسی وتلای. لنډې دا چی د دې تعریفو څخه
دا ښکاره ده چی د ادب مفهوم او د هغه د تعبیر ساحه ډېره ارته ده او د

یوه سړی یا یوه ولس د احساساتو
او افکارو د تحریر او تقریر
مجموعې ته ادب ویل کېږی
چی په دغسی عام اعتبار نو د انسان

ټول فکری او حسی محصولات
د ادبیاتو په چوکاټ کی راځی

ادب او ژبه

مګر دلته یوه خبره سته او هغه

دا ده چی د ادبیاتو او ژبی ترمنځ
باید تو پیر موجود وی نه هغه
تفریط چی پخوا په ادب کی
کاوه او یوازی ئې تصنعی آثار

ادبیات بلل او نه دونه افراط
چی ټوله وینا وی یا لیکونه په
هره اندازه او هره موضوع کی
چی وی ادب و بلل سی. که څه هم

دا ښکاره ده چی د ادب ساحه
تر پخوا ارته ده د مخه به ملی
ادب د ادب د دائرې څخه وتلی
ګڼل کېدی اوس په ادب کی

داخل ګڼل کېږی له دې جهته
چی د یوه ادبی اثر امتیازی
وصف دا دی چی باید په
اوستونکو کی ذوق او هیجان

تولید کړی نو دغو امو ادبیات
چی د جامعې او په برخه په هیجان

راولی څنګه کېدای سی چی له
ادبیاتو څخه ئې وتلی وګڼو؟
په پښتو کی هغه لنډۍ او ناري
چی پښتانه ئې په غرو او دښتو

کی وایی د ټولنی د زړه څخه
راوتلی او د ټولنی په زړه کی
ځای نیسی، هغه ادبی ټوټې
چی دعوامو ادبی ذوق ئې صانع

وی د خواصو د دماغ تر مصنو-
عاتو ډېر موثر دی د هیجان په
تولید کی ډېره اغېزه لری او د
انتقاد قوی روح هم پکښی

نغښتی دی . علاوه پر دغه په نظم
او نثر کی د موضوع او معنی له
حیثه تر پخوا ډېر وسعت پیدا
سوېدی دغسی هم انتقاد چی په

نوی دنیا کی د ادب مهم رکن
ګڼل کېږی پخوا ئې په ادب
کی لار نه درلوده . نو چی دا منو
چی ادبیاتو تر پخوا ارت والی

موندلی دی د تعبیر او شمول
ساحه ئې پراخه سوېده دا هم
باید ومنو چی د ادبی او معمولی
ژبی فرق موجود دی او هره

خبره ادبی خبره نه ده او نه ادبی
خبره داسی ده لکه معمولی .

ښاغلی صورتګر په [سخن سنجی] کی لیکی [که یو لیکونکی
داسی کلمات او الفاظ ایجاد کړی چی پخپله دده دپاره دده د
ننني احساساتو ښکاره کونکی وی او په دغو کلماتو او الفاظو
کی دومره قوت او اثر نه وی چی دده احساسات دلوستونکی په

ذهن کی ور کښېنوی نو دغسی اثر ته ادبی اثر نه شو ویلای مقصد
دا چی ادبی ژبه یا هغه کلمات او الفاظ چی په دغه فن کی په
کار یږی باید یا دښه او وسیع مفهوم په اثر یا داسانی او ساده ګی
په اثر تر معمولی الفاظو او کلماتو اغیزه ناکه وی او هم دغه د

ادبی او معمولی ژبی فرق دی چی په لومړی ژبه کی د الفاظو او
ترکیبو اغیزه تر دوهم ډول ژبی زیاته وی بل ځای وائی چی: ادبیات
د بشر د احساساتو د تبدیلولو څخه عبارت دی په هغو نخښو سره
چی الفاظ ئې بولو په داسی ډول چی د دغو الفاظو اغیزه تر معمولی

الفاظو ډېره وی .
دی وائی: سقراط ادبیات د شاعر د هیجان قبلونکی طبیعت معلو-
مول بولی او دا خبره رشتیا هم ده، مګر هو! که دا هیجان او تاثیرات
په عادی او معمولی الفاظو او کلماتو بدل کړه سی ادبیات نه ګڼل

کېږی او نه معمولی الفاظ او تعبیرونه د هغه نماینده ګی کولای
شی، بلکه د دې کارواک د هغه سړی دی چی د هغه پوهه د الفاظو
او لغاتو پر استعداد احاطه وی .
د دې ټوله بحث نتیجه دا ده هغه آثار چی علاوه پر فکر د خیال

او حسن درلوونکی وی یا ئې د الفاظو، کلماتو او ترکیب
خوند او تاثیر تر نورو معمولی الفاظو او ترکیبو ډېر وی هغو آثارو ته
ادبی آثار ویلای سو . نو که په علمی، فلسفی او فنی آثارو کی هم
علاوه پر فکر خیال او حسن ګډ سی ادبی آثار بلل کېږی .

د ښاغلي «ویران» رالیږنه

اراکوتی
(ارغنداو)

د آریانا ارت مملکت په اساسي وېش اولومړی سرکی برخو [٧] برخو وېشل سوی او پنځمه برخه ئې [درانجیانا] نومېده چې په راوروسته عربي وېش او د اسلامي دورې په اصطلاح ئې نوم بدل سوی ټول افغانستان یا له هرات څخه تر غزنی او کابل پوری په خراسان مشهور سویدی په هر صورت [درانجیانا] دلوئی آریانا د پنځمی برخی نومېدی چې کندهار، گرشك، چخنسور، سیستان پوه برخه، فراه، ترکلات، مقر، غزنی او هزاره جات پوری ټوله پکښې شامل دی او د کندهار دسیمی نوم [اراکوزیا] یا [اراکوسیا] ؤ لکه د درانجیانا نورو ټولو علاقو چې هم لخانه خپل نومونه درلوده.

د [اراکوسیا] یعنی د کندهار داوسنی ولایت پېرودخانو او سیندونو کی پوهرودخانه ارمشهور سیند دغه [اراکوتی] یعنی اوسنی ارغنداو دی چې گواکی پخپله دا ولایت هم د آریانا ئی او تاریخی اسنادو په رڼا وېل کېدلای سی چې د دغه رودبه نامه مشهور سوی ارصرف [اراکوتی] په [اراکوسی] سره اوښتی دی.

د دې زود د نامه بدلون کی لکه یونانی مورخینو چې هم ویلی دی ارغنداو یا ارغنداب یعنی خروښنده او به او اراکوتی چې ارغنداو پخوانی او تاریخی نوم دی پدې باب کی زموږ د هیواد معاصر تاریخ لیکونکی داسی حدس کړیدی چې اوسنی [الکوزی] چې د ارغنداو د طغی وکړو نوم دی او د هر دغه قام پکښې استېږی هغه د اراکوتی د کلمې د ښه پکښې ښکار بېزی که څه هم د الکوزی د لفظ ی جزء الا مخی [زی] د اولاد په معنی دی خو بیا هم [اراکو] چې د [اراکوتی] د کلمې لومړی جزء دی او د [الکو] چې د [الکوزی] د کلمې لومړی برخه ده مناسبت او شباهت سره لری، دا چې ارغنداو څرنګه د اراکوتو اریانی نامه پرځای منځ ته راغلی دی داسی ویل سویدی [سترابو] مؤرخ اراکوتی چې دغه د ارغنداو د کلمې بوشکل دی د خلکو څخه اروېدلی دی یا هغه مؤرخ پخپل تلفظ کی د اراکوتی څخه ارغنداو جوړ کړیدی که څه هم په اراکوسیا کی د هر قومونه اوزښت تکمونه پرانه وه منګرتولونه اراکوتی وېل کېده، او بطلیموس یونانی مؤرخ د اراکوزی یعنی کندهار د ولایت د ټولو قبیلو نومونه علیحده، علیحده هم ذکر کړی او تاکلی

دی چې دلته بیان په اوږدیږی .
داهم باید وویل سی چې د عربو د رانګ څخه

وروسته دا روذ اودا سیمه د [الرخج] پنامه هم
یا ده سوه .

اوس به ځینی ښارونه او مدنیتونه ذکر کړو چې
دارغنداو پرغاړه یا څه ورڅرمه تېر سوی او ځینو

مؤرخینو ئې نوم اخیستی دی .
اراکوتس :- داښار دارغنداو د روذ پر غاړه

پروت ؤ او ددغه ځای مرکز بلل کېدی دا ښار
[استرابو] مؤرخ د کلات د شمال خواته د کابل

پرخوا پر ۲۲۵ میله پروت بولی په دغه حدوذو
کی د یوه زاړه ښار خرابی د [ضحاك] د ښار پنامه

دلوړ ارغنداو پرغاړه د کلات شمالی خواته پرتې
دی ویل کېدای سی چې دغه به وی .

ازولا، یا [وزرلا] :- داښار که څه هم دلوړ هلمند
د ښارو څخه یو مشهوره ښار دی . بطلمیوس

یونانی مؤرخ داښار پخپله د کندهار [اراکوزی]
دولایت مرکز بللی دی .
فوکلیس :- داراکوزی د مشهورو ښارو څخه ؤ

چې بطلمیوس ئې یادونه کړېده موقعیت ئې دغزنی
او کندهار ترمنځ تقریباً د اوسنی کلات سیمه

ده داښار مؤرخین د یونانی پاچهانو له بناؤ څخه
ګڼی او اضافه کوی چې د اراکوزی ترتولو ښارو

محکم او ټینګ ښارؤ .
تکین آباد :- بیهقی ددې ښار یادونه کړېده

داښار د کندهار د ښار پرځای اباد بلل سوېدی
اوس ئې هیڅ نښانه نسته .

پنجوائی :- داهم د ارغنداو دغاړی یو تاریخی
ناحیه ده چې اوس هم اباده اوذ استوګی څخه

خالی نه ده د کندهار یوه مشهوره اولویه سیمه
ده تاریخی حیثیت ئې دیادولو وړ دی .

پرته لدې اراکوزیا نورودان ځایونه او ښارونه
هم درلودل چې نومونه ئې یا نه دی راوړل سوی

یا بلکل چاته نه دی معلوم مثلاً نن ورځ موږ ته
د کوهك، خالیشك کنډوالی، د صالحان د کلی

دغره نخښی په مخه راځی او هم د دېمراسی، منډیګك
او اشوغی په باب کی ځینی نظریات سته چې

مدنیتونه به پکښی تېر سوی وی چې دا ټوله د
ارغنداو د رود پرغاړه یا ودې رود ته نژدې
موقعیت لری .

[د ښاغلی واسعی د یوې مقالې لنډیز]
د لږ تصرف سره

ښاغلی عبدالرحیم «هاتف»

کـــه ډله ټولنه؟

د ترادف موضوع په ادب کې یوه کړ کېچنه مسأله ده چې پوهان ئې پر دوو ډلو وېشلی دی. څوك مرادف الفاظ هم معنی بولی او څوك ئې بیا په معنی کې لږ تو پیر ته قائل دی. تر ډېری اندازې علمی اصطلاحات د کلماتو پر رواجی مفهوم بنا کېږی، که ډله او ټولنه مادتاً یو ذبل پر اړخ کښېږدو هر ومرو څوك او څوك په ذې ایهام کې راځی چې دا دوې کلمې که پر یوه معنی دلالت ونه لری مرادفی نو ضرور دی. خو د توضیح دپاره باید ووایو چې د ډلی او ټولنی ترمنځ هغه تو پیر سته چې جمعیت ئې د اجتماع سره لری، په بل عبارت ډله مطلق یو ځای کېده دی او ټولنه تشکیل او انسجام هم ایجابوی. که حیوانی عالم ته د ستر ګو تر کنج وګورو وینو چې د حیواناتو ډېر انواع طبیعتاً دا غریزه لری چې سره راغونډ سی، ویلو ته حاجت نه لری چې حیوانی غرائز د هغو د پخوانیو نسلو د تجربو محصول دی او په دغه راغونډېدو کې د افرادو شعوری دخل لږ وی، که موږ دغه د حیوانی طرز راغونډېدو وبولو نو د لفظ او اصطلاح څخه به لیری نه یو تللی. ډله ځانته مختصات لری، چې تر ټولو مهمه خاصه ئې ځان ځانی ده او نور ممیزات ئې هم د دغه انشعابات ګڼلای سو. مثلاً دا چې د ډلی افراد تر شخصی ګټی پورته په ډله کې نور هیڅ حکمت نه وینی یا دا چې یو فرد ئې د ځان او بل ملګری په واقعی حیثیت نه وی خبر او یو فرد د بل په درد د هغه دپاره نه خوږیږی، او د ډلی د تشکیل غایه او پخپله د ډلی اهمیت نه پېژنی هم د ځان ځانی د مبدأ ښاخونه دی.

تر ډېره حده ډله د خپلو دغو ممیزاتو سره په سافلو حیواناتو کې موندل کېږی، مثلاً که د پسو له ډلی څخه یو دلېوه په برخه سی نور ئې په منډه تلافی ګوی او هر فرد دها نورو یا د خوړل سوی هیڅ غم نه خوری. سعدی د دغی حادثې ښه تعبیر کاوه چې ویل ئې :-

گوسفندی برد این گرگ مزور همه روز
گوسفندان دیگر خیره در او مینگرد

لېوان دجنسي میلان بروخت
سره راغونډېږي یا هغه وخت
چې یوغټ بوده په ګډه سره
رامروږي، داوخت ئې هم مطلب

دخپلو خپړو د کولوی اودبل
په نس کې چرت نه وهي، مرغان
هم عموماً د لېږد پسر مهال
دله نري .

په دغو مهیزانو یا دغه نه نزدې
په مترقي انساني اجتماعاتو کې
هم بوراز تولنه سته چې موقتي
تولنه ئې بولي خو په هغه کې

لاهم عالي انسانان داجتماع په
غاړې حکمت بوه وي .
اما اساسي انساني تولنه داسې
نه ده، که څه هم د انساني

اجتماع اصلي تومنه دغه دله
ده خو د انسان ارتقائي سیر
فضیلت او پوهنې د ډلې زیږې
څو کسې ورسولې دی او

برېښندو کې ښوبه سطحه ئې
راسربېره کړېده، دتولنې فرد

برخپلو تولو شخصي مطلبو
سربېره د انسورو افرادو غم
خوري، دمصلحت فکر ئې
کوي، حقوق ئې پېژني، تجاوز

نه پر کوي، حیثیت ئې ورمعلوم
وي، احترام ئې کوي اودانه
بوازې ددې دپاره چې دده ګټه
یکښې ده بلکه دخپلوانو بوالا نو ګټه
هم له نظره نه اچوي، بردې

سربېره پخپله اجتماع هم پېژني
د ښېګړې د وړاندې تګ او
سلامتي په لار کې ئې بوره
اهتمام کوي، په تقدس ورته

قائل وي او بیاهم دا توله نه
بوازې دشخصي ګټې په منحصر
احترام بلکه ترهغه پورته د
تولنې دپاره بالذات هم دښې

عقیدې براساس کوي ځکه چې
بوه انسانان داجتماع دتشکیل
په غاړه اود مختلفو اصنافو په
اهمیت پوهېږي نردې حده چې

دهر ځله افرادخپل مفاد او
ځانونه په اندې رضا د اجتماع

دصیانت په لار کې قربانوي نو
په نتیجه کې د داشان مرتقي
جامعې افراد روحاً او جسماً
آرام وي .

اوس نو خبرداده چې آیا توله
انسانان داسې اجتماعات لري؟
آیا په بوه بلا ودغې عالي سطحې
نه رسېدلي دي؟ البته جواب

ئې منفي دی ځکه ده ېرو انسانانو
جماعتونه دحیوانې دلې او
انساني تولنو ترمنځ واقع دي
او هغه انسانان چې مرتقي

تولنو ته رسېدلي دي هم په
بوه وار نه ده ور پېښه سوي .
نو هغه څوك چې دښې اجتماع
هڅه جاري ساتي لیري نه ده

چې تدریجاً ور ورسېږي هیلې
ارو چې کشکې موږ نه هم د
علم او ښه تخنیك له لاري په
انساني عالي اجتماع

کې څو شپې ژوند را
ورسېږي .

کره کتنه

ښاغلی «پاڼینو»

بیاهم
د مذکر جمع

ما به پردغی موضوع باندی د دریمی پلا له پاره قلم نه وای را اخیستی، خو څرنګه چی د ښاغلی بختانی په هغه لیکنه کی چی زما په جواب کی ئې کښلې وه، ځینی د یادونی وړ تکی سته، ځکه می نو دغه څو لاندنۍ کرښی بېځایه و نه ګڼلې.

د ښاغلی بختانی [د پاڼینو په ځواب کی] لیکنه ډېره له حوصلې د که وه یعنی زما کره کتنه ئې په ورین تندی منلې او دهغې جواب ئې په سړه سینه کښلی ؤ، چی زه ئې پخپله دغه رویه ستایم او دده یو ښه صفت ئې بولم. اوس به نو دده وهغو خبرو ته راسم چی زما پر لیکنه ئې درلودلې:-

۱- دی لیکی: [داچی زما مقاله په کابل مجله کی خپره سوېده او تا ور باندی په کندهار مجله کی انتقاد کړیدیء].

داخو سمه خبره او ماهم باید خپله لیکنه و کابل مجلې ته درلېږلې وای، مګر ځینی علتونه موجود وه، که نه وی څه پروا خو ئې نه درلوده.

۲- بل ځای داسی کښل سویدی: [ما ځینی داسی نکات ولیدل چی هغه ستاسو په نفسیاتی کیفیاتو پوری اړه لری. د هغه [هغو] څه جواب [له] ما سره نشته].

زه خو پخپله تراوسه لاهم له هغو نفسیاتی کیفیاتو څخه، چی ښاغلی بختانی اشاره ورته کړېده بې احساسه یم. نو موږ ی داهم لیکی چی له ما سره ئې جواب نسته، مګر د دغو نفسیاتی کیفیاتو تش یادونه او څرګندونه چی ئې کړې وای هم ئې د جواب او توضیح په توګه کفایت کاوه.

۳- دغه وروستنۍ نقطې چی نو موږ ی ئې په تینګه یادونه کړېده یوازی زموږ د افادې او استفادې پر کمزورتیا باندی دلالت کوی، مثلاً:- ما کله لیکلی وه چی عربی کلمات باید نه وای استعمال سوی؟ عربی خو زموږ میرېزۍ ژبه ده کله ځنی خلاصېدای سو؟ ما خو کښلی وه چی د مقالې عنوان [د مذکر جمع] و ما ته دغه را افاده کړه چی: بحث د عربی کلمې [مذکر] پر جمع باندی دیء مګر هغه زما له توقع څخه برخلافه په مقاله کی د پښتو د مذکرو، مفردو نو مو او صفاتو پر جمعو باندی بحث سوی ؤ. ما دغه هم کښلی وه چی د عربی [مذکر] کلمې جمع عجیبه او په زړه

پوری موضوع ده؛ ولی هغه څوك چی نه په پوهیږی پر ټپروزی، چی مثالونه ئې دادی:-

مفرد: مذکر، ذکر جمع: مذاکر، ذکور

که څوك ناخبره وی نو سمدلاسه وایی چی د [مذکر] جمع [مذاکر] او د [ذکر] هغې [ذکور] ده. مګر په واقعیت کی پېښه سرچپه ده. یعنی د مذکر جمع ذکور او د ذکر جمع بیا مذاکیر کېږی. داچی ولی داسی راځی؟ بحث څېړنه او جواب ئې یوه په زړه پوری موضوع جوړوی.

٤- «د جمع پر ځای د جمعی لیکل...» په دې ځای کی داسی ویل کېدای سی چی «د مذکر جمع» په عنوان کی د جمع شکل ئې سم دیء ولی چی د نوموړی ترکیب مبتداء «مذکر» مفرد دیء نو ئې خبر هم باید د مطابقت په صورت کی ورسره مفرد وی. مګر که مبتداء مفرد نه وی لکه «د مذکرو نومو...» چی جمع ده نو ئې خبر هم جمع راځی نه مفرد. مثلاً موږ داسی نسو ویلای «د مذکرو مفردو نومو جمع» داځکه چی په دې صورت کی به نو زموږ واړه مذکر نومونه یوه جمع ولری او دا په هغه صورت کی امکان لری چی واقعاً هم دغسی پېښه وی، لکه دغایبو د ضمیرو په برخه کی چی دغسی کېدلای سی مثلاً ویلای سو چی: «دغایبو مفردو شخصی ضمایرو جمع چی ضمیرونه ئې دوه دی او جمع ئې یوه ده «دی، دا، دوی».

ځکه نو په پورتنی ترکیب کی «د مذکرو مفردو نومو او صفتو» خبر د مطابقت په صورت کی جمعی راتلای سی نه [جمع] یعنی «د مذکرو مفردو نومو او صفتو جمعی».

٥- په جواب کی می لیکل سوی دی چی: «ستاسو په دې ترکیب زه د [مفرد] د قید سره هم موافقت نه لرم... بلکه د دې لامله چی زما د خپلی لیکنی په ۱۲ ماده کی د جنس نومونه په ۱۳ ماده کی مصدرونه او په ۱٤ ماده کی ځینی هغه کلمات چی په مفرده بڼه کی د جمع «جمعی» معنا ورکوی او په ۱٦ ماده کی هغه صفتونه چی د مفرد او جمع «جمعی» د پاره پوراز استعمالېږی، ذکر شوی دی».

اساساً او به له لویه سره څخه راخړی دی، ولی واز دواړه دالازمه وه چی نومونه کته ګوری سوی وای او بیائې پر جمعو باندی زغېدلی وای، یعنی بیائی نو په هر بېل بېل مبحث کی مفرد یا جمع او یا دواړه صورتونه بیان سوی وای. مګر داچی نوموړی ښاغلی زما د افراد له قیدة سره د [مفردو مذکرو نومو او صفاتو جمعی] په ترکیب کی د خپلی لیکنی د ۱۲ سمی، ۱۳ سمی، ۱٤ سمی او ۱٦ سمی مادې له پلوه موافقت نه لری، زه ئې موافقت داسی حاصلوم:-

په ۱۲ سمه ماده کی چی ئې د جنس «۱» نومونه راوړی دی، د افراد پر قید باندی څه اغېزه نه لری ولی چی په «الف» وېشنه کی ئې عین شکل هم مفرد دیء او هم جمع، نو په دې صورت کی ویلای سو

«۱» د جنس کلمه د مذکر جنس او مؤنث جنس له پاره ده نو په پورتنی صورت کی ئې استعمال پر ځای نه ایسی.

چې د جمعې مورفیم ئې صفر دی، او دغه صفر مورفیم او دا معنا نه لري چې بادی مفرد نه وی او بادی جمع.

مثالونه ئې سره له استعماله یه لاندی دول دی:

انار، لوکاټ، بادرنګ، غنم، زړون، کورت بادام.

مفرد	جمع
دغه انار دی، [دی]	دغه انار دی. [دی]
دغه لوکاټ دی.	دغه لوکاټ دی.
دغه بادرنګ دی.	دغه بادرنګ دی.
دغه بادام دی.	دغه بادام دی.

د [ب] وېشنې یه باره کې باید له دمخنه وینا سره سم یه نومو کې کتنه کوری چې وری سی مثلاً یوه ئې له هغو څخه: حسا بیدونکی او نه حسا بیدونکی نومونه.

که بیاهم له یوې خوا څخه دغسی وېشنه نوې او تاماً نوسه ایسی او له بلی خوا څخه دا چې موضوع یه متداول دول سره بیان سوېده، نو بیاهم [دمذکر جمع] عنوان غور غواړی:

دغه د [مذکر جمع] اضافی ترکیب دا ښیی چې [مذکر] مفرد او [جمع] ئې بیا نیږی، یعنی دمذکر یه کلمه کې یخیله د افراد قید بروت دی، چې جمع ئې یوښکاره دلیل دی، او بل دعربی مذکر کلمې اشتباه هم له دغه ځایه وه.

که چیری موږ وغواړو چې له پورتنی عنوانه څخه دا فرادقید پرمخ وباسو، نو یه داسی بومخیزه بدلون یکښې راولو چې ترکیب یه ئې داسی وی: [مذکری جمعی] او که ئې واضح وکاږو نو [دنومو او صفاتو مذکری جمعی] کېږی. تر دغه عنوان لاندی نو بیا مفردی کلمې کورت نه سی بیا نیدلای (۱)، یعنی داسی باید ویېنه سی چې یه بومماده کی دی مرضوع له عنوانه سره سمه وی مګر یه نورو مادو کی نه.

ب: یه ۱۳ سمه ماده کی مصدرونه راوړل سوی دی چې واره جمع دی. مګر او مړی ویېنه خو داده چې دغه مصدرونه خو فعلی نومونه دی او د شیانو له نومو سره نسی راتلای، یعنی باید یه دغه سلسله کی بیان سوی نه وای.

دهمه ویېنه ئې بیا داده، چې دغه مصدرونه که نش یه دې لحاظ راوړل سوی وی چې نومونه دی، نو داسی فعلی نومونه خو نورهم وه، او هغه ولی نه دی راوړل سوی؟ لکه:-

۱- وهنګ، خورنګ، کښنګ، چیښنګ ...
۲- چیښاك، پوښاك، خوراك، څکاك ...
۳- کړاو، چیاو، چلاو، لګاو ...
٤- مړښت، پاښت، لګښت، ارزښت ...
٥- سمون، بداون، کډون، لګون ...

ج: د ۱٤ سمې مادې کلمات هم د افرادو له قیده څخه نسی آزاد پدلای، که څه هم د جمعی لپاره یه دغه یوه معین شکل راځی. یه دغه دول سره بیا ویل کېدلای سی چې د جمعی مورفیم صفر دی. د دغی مادې د کلماتو مفرد او جمع حالات له استعماله څخه نیه نرا څرګندیږی، لکه:-

(۱) لمونځ، ماو کړ کېدی.

ډېر، ګڼ، زيات.

مفرد	جمع
۱- يو ختکی لاهم پرموږ ډېر دیء.	۱- څلور ختکيان خو بيا پرموږ بيخی ډېر دی
۲- ددوی باغ ګڼ دیء.	۲- ددوی باغونه ګڼ دی.
۳- دښه شی قيمت زيات دیء.	۳- دښو شيانو قيمتونه زيات دی.

د: د ۱٦ سمی مادې صفتونه هم د ۱٤ سمی مادې غوندی دی. بېله دې چی زه ئې توضيح کم ښاغلی بختانی پخپله پرمفردو او جمعو باندی وېشلی دی. يعنی د افراد قيد ئې پخپله وار دواره لاورته اېښوء دیء.

٦- بيا داسی پسې کښل سويدی: [... په دې لحاظ پاته شوو (سو) «دمذکرو نومو او صفاتو جمعی» کله چی پخپله دمتن نه معلوميږی چی بحث د نومو او صفاتو دیء، نو دهغو ذکر نه فرضيږی.] له دغه عبارته څخه دا راوزی:-

هر هغه څه چی له متنه څخه نه فهمول کېږی ذکر ئې لازمی دیء او که فهمول کېدل نو ئې ذکر بېځايه دیء. دغه معنا دا چی [دمذکر جمع] عنوان له متنه څخه نه معلوميږی (رشتيا هم) او که ځنی معلوميږی نو ئې ذکر نه فرضيږی.. حقيقت داسی دیء چی عنوان دموضوع محور وی.

۷- بل ځای کښل سويدی چی [... کمی برخی ته چی تا اشاره کړېده هلته لفظی کټه ګوری په کلماتو کی د «خج» د سته والی او نسته والی په «پر» اساس جوړی سويدی، لطفاً ئې بيا وګوری.]

د بل وار کتنی ئې ځينی داسی خبری راپورته کړې چی ليکنه به ئې ښائی بېځايه نه وی:-

الف: د خج پر اساس باندی په کټه ګوريو کی د ننه وېشنی کېږی SUBDIVISIRNS او مستقلی کټه ګوری هغه مهال پر جوړېدای سی چی دموضوع محور خج وی يعنی چی له خجه څخه بحث کېږی.

ب: چيری چی ما اشاره ورته کړېده هورې د خج پر اساس باندی کټه ګوری نه ده جوړه سوې بلکه داسی ورته کښل سويدی: [چی په نوم او صفت کی خج نه وی نو جمع ئې دوه شکله لری..] رشتيا هم د کټه ګوريو په جوړونه کی خو راډيری ګډوډی نوری هم سته چی تکی په تکی ئې يادونه ګرانه ده.

ج: په «ب» وېشنه کښل سويدی چی خج نسته مګر بېښه بر خلافه داسی ده چی د دغی وېشنی خج د «الف» وېشنی تر هغې هم قوی او هم پرځای دیء چی نسته والی خو ئې هيڅ نسته.

۸- مثالونه که هر څونی ډېر وی، وی دی، مګر د ډېرو راوړنه ئې ضرور نه ده او کفايت کوی چی وويل سی: [مشت نمونهٔ خروار است.]

۹- زما له مړې ليکنی څخه چی پخپله د خلګو په مغزو نه ورننوزی، ښاغلی بختانی بيا بل راز

پښتو ګرامر دلی او داسی ئې کښلی دی: [د هغو نومو په باره کی چی مفرد ئې د مغیره عواملو په اثر تغیر کوی او د تغیر سوی مفرد او اصلی جمع شکل ئې بو راز کېږی هم تاسو د اشتباه سره مخامخ سوی یاست او لږ په تفصیل ز غېږدلی یاست، زه به ئې په لنډ صورت درته عرض کړم: ما بخیله لیکنه کی په دغسو مواردو کی د جمع «جمعی» شکل لیکلی نه به خیله جمع اطفاً یه دې برخه کی بیا غور وکړیء.]

د [جمع شکل] او [بخیله جمع] معنا څه؟

دغه ټول کیبونه هغسی اشتباه بوینږی، کمه چی زه به لومړی کړه کتنه کی په تفصیل سره برزغېدلی یم. یعنی هوري هم

زه پریوه بې سره او بې ښکره عبارت او موضوع باندی زغېدلی الفاظ می ورالیش او اصلاح کړی، معنا می ئې ورسمه کړې او له نور واړو څخه می توضیح کړی دی. نو که چیری زه له اشتباه سره مخامخ سوی یم نو په کابل مجله کی هم [دمذکر جمع «٦» نوټ] غلطیږی، ولی چی ما دهغه برخلافه څه نه دی بر کښلی، بیله توضیح څخه لکه: [دجمع شکل] او [بخیله جمع] چی داسی معناوی ور کوی:

د «یسه» کلمې دجمعی تحریری شکل «یسونه» کېږی او «بخیله جمع» ئې هغه ده چی بوخو یسونه واقعاً بوځای سره ولاړ وی.

توضیح: برخلافه د ښاغلی بختانی مقصد دغسی نه دی، لکه بورته چی ئې ذکر کیبو تجزیه وسوه، بلکه نومورې «دجمع شکل» له ترکیبه څخه «داسم مفرد منحرف حالت» مراد وی چی لحینی جمعی هم دغسی راځی لکه: خپاره، ساره، کاڑه... چی هم مفرد استعمال لری او هم جمع. یا لکه: نامه، وراره زنګانه... چی بخیله منحرفی مفردی کلمې دی مګر کره وره ئې له لحینو جمعو کلمو سره ورته دی او د «بخیله جمع» له ترکیبه څخه ئې مراد، د نومو جمع صورت دی، لکه: اخښیان ارونه، دوزخیان...

دغه وي بوخو نوری کرښی چی کوندی مطلب ئې افاده کړی وی.

ښکلا

ښکلا دومره باشکوه او مقدسه ده چی هر ځای په وجود راشی، که ئې څاهم هر څو نی به پېر بو، پېر بو کی ولی ولی وحشی ملتونه به انهدام کی کوښښ وکړی، بیا ئې هم انبی بر خپل ځای باندی پاته وی.

«اناتول فرانس»

ښکلا له زوند څخه زېږېدلې ده.

«روسکن»

ښکلا به نړی کو هیڅ زیانوب نه دی موندلی.

«امرسون»

هر ځای چی ښکلا ته عشق سته.

«هیت»

ښکلا د ښکلا جذبونکی ده.

«هانت»

ښاغلی عبدالحی «حبیبی»

د زړه سره

راسه زړګیه ماته وایه د پښتو خبری
د پښتانه د تېر تاریخ او د ژوندون وینا
د لوی لودی او د غلجی، سوری، ګډون وینا
د لوی پښتون د عظمت بیا د بېلتون وینا

راسه چی کښینو سره

د چا په یاد داسی زړګیه! تا پریشان وینم
په څه کړاو دی هسی شانی ځلیلان وینم
داستا له منځه د سرو وینو رود روان وینم!

څه ده در پېښه
زړګیه هیښه

راته ووایه لږ څه له درده سوزه وینا

زړه راته خپور کړ له درده د خپل ګروم داستان
د پښتانه د تېر عظمت، جلال و نوم داستان
د پښین، بنو، د پېښور او د سدوم داستان

ده ول اټک چیری ولاړ
خوشحال خټک چیری ولاړ
بولان کوزک چیری ولاړ

زمانه هیریږی د ما بن او د سوات سیمی
د اباسین، د شال د ژوب او د کوهاټ سیمی
هغه د توری د بریښتاؤ او د باټ سیمی

څنګه به هېره کړم زه
د هغو غرونو ښکلا
دا پېښور، دا تیرا

توتي، توتي کړ زماني عظيم هيواد د پښتون
لږ نه دی پاته هغه برم چې مو درلودی پرون
اباسين ژاړی پردې حال باندی په څنګه تا خون

زموږ پر ذات ژاړی
پر تهر عظمت ژاړی
څنګه په ورټ ژاړی

سپين پښتانه هلته په څنګه سوځنداور سوځی
د ناپاکانو په ظلمو مې خور، ورور سوځی
بيا مې زړګی د غليمانو په بېغور سوځی

اسمانه کړې په جفا
څونې تر کومه پر ما
اروې که نه دا وينا

لاس که مې برسی، کړم به تا اسمانه دړې وړې
وينم له تانه په کلو، کلو جفا، تاوړې
تر څو به اروم د غليم خبری بړی بړی

زه به ذليل نه يم تل
وخت به مې راسی يو بل
لاس به مې برسی يو ځل

زه به پښتون ته پر دنيا يو ښکلی کور جوړ کړم
بيا به خپل باغ په ښو ګلونو ښه سمسور جوړ کړم
دلوی پښتون په لوی نامه به لوی انځور جوړ کړم

د خپل ورو ره سره
به سمه غاړه غړی
د محبت په کړی

بيا به نو وايمه دنيا نه چې زه سيال يمه
د حق مرستيال يمه
زه مينه پال يمه

ښاغلی عبدالروف «مخلص»

خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

دا هیواد خو نه دی بیګانه او د بردو وطن
څوک تابع کولای شی خپل ځانته د زمرو وطن
پانه دی و موږ ته له نیکونو له پلرو وطن

دا باستانی مځکه او دا پاک د مېړنو وطن
خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

دا سپېڅلی قوم په هیڅ وخت اسارت نه منی
خپل پر بازو زور کوی د نورو قوت نه منی
خپل حیثیت ساتی د بردو حیثیت نه منی

ګرد عمر ساتی په تېرو نورو په برچو وطن
خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

«۱۸ مخ دی و کتل شی»

کړمه به جوړه یوه ښکلی د پښتون دنیا
وی به روښانه د پوهنی د وړانګو په رڼا
سی به زانګو دانسانتوب دغه سپېره پښتونخوا

د پوهی، روغی سیمه
د برم او جوړی سیمه

د پښتنوالی د لوړتیا د عظمت زانګو
د لوړ همت د عالی فکر د نهضت زانګو
دانسانتوب، د فضیلت د محبت زانګو

ان د پښتنو په سر که جوړ دانا تارونه دی
یا د دغه قوم چې پر هر ځای خراب کورونه دی
اوری چې ګولې دی او که غټ درانه بمونه دی

دا زحمت به ژغوری د پر دیو له پنجو وطن
خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

پای به سره ټول شی پښتانه د خپل تبر په ننګ
دلته به ولاړوی دغه ټول په مال او سر په ننګ
تا به مدعی کړی ریز مریز زیر و زبر په ننګ

دا خو چیرته نه دی ستا د شومو ګومانو وطن
خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

څو وخته به پاڅی ودې ښکار ته به صیاد کې ځان
ستا له اسارته څه اخیرته به آزاد کې ځان
یا به سر پر بایلې پر یوه مخ به برباد کې ځان

خلاص به مخلصان کړی د پر دیو له حکمو وطن
خامخا به جوړ شی دا د سپینو پښتنو وطن

د فکر پلوشې

دوظیفې پای ته رسول

یوازنی عمل چې انسان په ژوند کی وخپل هدف ته رسوی، دوظیفې پای ته رسول دی. «استائل»

ښه خویونه

د نجیب سړی ایده آل د ښو خویو درلودل دی. «کنفوسیوس»

د محیط زوی

انسان د هغه محیط او ټولنی زوی دی چې پکښې روزل سوی دی. «موپاسان»

ښاغلی «ویران»



ښاغلی

هوتک غلام نبی

ښاغلی غلام نبی «هوتک» چې په کندهار کې په لالا غلام نبی سره شهرت لري د پښتو د پخوانیو لیکوالو او ادباؤ څخه دی نوموړی د عبدالسلام زوی او داچې د تخلص څخه ئې هم څرګند دی په ختهٔ هوتک او سن ئې اوس [۶۱] کالو ته رسیږی، نوموړی

د دریمی ناحیې د [کالیزو] په کوڅه کې زیږیدلی او لوی سوی دی.

د شعر او ادب سره دونه علاقه چې په ده کې لیدل کیږی زموږ په عصر کې موبل څوک نه دی لیدلی

ځکه په هر حال او هر وخت کې چې څوک ور سره مخامخ سی دده جیبونه د غزلو او ځینی ادبی پارچو څخه ډک وی، مېلو او د خوشالۍ ټولنو ته هم د شاعرانو دیوانونه د ځانه سره دیوې بسترې

په شکل وړی، په خبرو کې د استدلال دپاره هم د شاعرانو د اشعارو څخه چې ده په یاد کړی دی

کار اخلی، بر سېره پردې په خپلو ورځنیو چارو کې کومې درخواستۍ یا عریضې چې ضرورت

ئې ورته پیدا سوی وی هم په بیتو او نظم لیکی.

ښاغلی غلام نبی لالا خپله سوانح هم په نظم جوړه کړې ده چې یو څه برخه به ئې دلته راوړو:-

غلام نبی هوتک ادیب یم د پښتو
په کوڅه کې می دی کور د «کالیزو»

نوم د پلار مرحوم می دی عبدالسلام
خدای دی و بخښی په روی د خپل کلام

وه شمسی سنه [زر، دره سوه، انیا]
چې پیدا سومه له موره پر دنیا

اوس دیو شپېته کلو زه په شمار یم
زیږیدلی هم دلې پر کندهار یم

لږ تعلیم می دی له علمه څخه کړی
په مسجد کې می دی څه سبق زده کړی

په دا درو ژبو وینا کولای سم
هم پښتو او هم پارسی لیکلای سم

او په نورو ژبو زه ښه نه پوهېږم
چې پښتون یم په پښتو ژبه زغېږم

په داخل کې می لیدلی ښه کابل دی
چې په واړو وطنو کې لکه ګل دی

که غزنی دی، که مقر دی که کلات
ګرشک، فراه، شین ډنډ می ولیدا و هرات

بیا در توری غونډۍ هم یم ورغلی
د سخی مزار شریف می هم لیدلی

په خارج کی کراچی ته یمه تللی
پر چمن او پر کوټه هم ورغلی
که ډیلی، احمدآباد؛ که بمبئی دی
ما لیدلی دغه هر یو په ځوانی دی

ما په دې ملکو کی کړی تجارت دی
چی په دې توګه می کړی دا خدمت دی
فاسق نه یمه د بدو څه بېزار یم
که پر کور، که پر بېبان، که پر بازار یم

نور نو لالاغلام نبی په داسی حال کی چی سر، زیره
اوور یځی ئې لاسپینی دی یو تکړه سړی دی، بېله
دې چی د ځوانۍ و تېرېدو ته ملتفت سی د ځوانانو
په ډله کی ګډون کوی او په ډېرو خواؤ کی تر

دوی کم هم نه وی، همداسی په لباس کی بېخی
د ځوانۍ کالی اغوندی.
لالاغلام نبی په کندهار کی د پښتو د نهضت ورځی
[هغه وخت چی دلته ادبی انجمن او پښتو مجله وه]

ډېر، ډېر یادوی په زیاته بیا دا چی په هغه مجله
کی دده څه آثار هم خیرېدل دا خبره خوئې د
یوې نه هیرېدونکی خاطرې په توګه د ځان سره
ساتلې ده هغه وخت چی ستر پښتون محمد ګل

«مهمند» دلته تنظیمه رئیس ؤ دده یوه توته
شعر ئې لیدلی نو هغه ؤ چی د نوموړی د لیدو
د پاره و د کان ته ورغلی او نوازش ئې ور کړی ؤ.
د ښاغلی غلام نبی د کاروبار په لړ کی د عطارۍ

او بزازۍ د کان، کله کله په ځینو شرکتو کی
مشغولیتونه په زیاته بیا تجارت شامل دی ځکه

چی تجارت ئې ډېر عمر کړی دی دلته ئې خلک
په تاجر سره ښه پېژنی.
لالاغلام نبی اوس هم د شعر او شاعری څخه لاس نه دی
اخیستی او کله کله ئې نوی، نوی بیتونه پخپله

له ده څخه اورېدل کېږی.
دالاندنی څو ادبی خپر کی د دوی له طبع څخه
دی:-

نه دی لږ

پر دنیا نوع بشر لره غمونه نه دی لږ
وصابر ئې په عقبا کی عوضونه نه دی لږ
لیری ګرزه تل تر تله له آزاره د مظلوم
وظالم ته په دوزخ کی عذابونه نه دی لږ

چی قلم په لاس کی واخلی د خپل نفس په مدعا
نو پر بل ناحق لیکل او تهمتونه نه دی لږ
رزق به لږ د فقیر نه کړی سپی دی غابی تر سبا
خو په کلی کی د خیر نور کورونه نه دی لږ

تل بېکاره سړی غواړی کار و ځان ته له بل چا
ولایق د کار ته هیڅ کله کارونه نه دی لږ
محبت به ئې هر څوک کړی د صادق سړی مدام
وخائن ته دوګړو بد لفظونه نه دی لږ

د جاهل بدی وینا ته پټه خوله بوله ښه کار
کې څه هم ویوهو ښیار ته جوابونه نه دی لږ
چی د عشق په اور کباب وی تل دی وائی خال ؤ خط
وعاشق ته د معشوق خپل صفتونه نه دی لږ

په کار نه لرم په هیڅ وخت د پردۍ ژبی داستان
غلام نبی ته په پښتو داسی بیتونه نه دی لږ

ښاغلی «پژواک»

یوادبی ټوک

«سیلی»

اې تندی «سیلۍ» له کومه راځې؟
له تا د کوم آشنا بوی را رسی
ولی دیردی او بیګانه په شان

له ما تېر ېږې؟ ودر ېږه، آخر
ما ته دی کوم سرور هیڅ پیغام
نه دی راوړی؟
تا هیڅ آه او کاته ګیرولای

نشی، نو چیری ځې؟
لږ ګړی ودر ېږه! زما منتظری
سترګی و یأس او تاریکی ته مه
سپاره، یوار مخ را وګرزوه

ګوره چی یوازی یم په زړه می
ننوزه او هلته د آرزو ګانو سوی
اور مړ کړه
ډېر آرزو لرم چی څه ګړی ستا

په سره غېږ کی ور ېږدم، پر ېږده
چی ستا د لمنی کومه څنډه
ونیسم، غواړم چی ما پر خپلو
تېزو او تندو وزرو واخلی په

غرو او شېلو، درو، جلګو او شنو
کښتو او دښتو می وګرزوې، پر
سیندو، دریابو او لویو ژورو

سمندرو د پاسه می تېر کړې
څو هغه ځای ته ورسو چی ته نوره
نشې تلای، هلته به می نو خپل
روح دلاری مل او لار به راوښئې

هغه وخت به ستر یا ما په داسی
خوب ویده کړی چی د خپلو
ښکلو خوبو سره یو ځای سوې
او له له لویو طوفانو څخه به

مستغنی او بی نیازه شم.
راشه، ما ته قصه وکړه چی ته
څه شی پر دېسه او لا لهانده
کړې ئې، زما د ځنګله د نورو

شپو افسانې ډېری خوښی دی
د بلوط د ونی قصه وکړه چی
تندو، تېزو، الوتو پر هغی تاثیر

ونه کړ، د کمزوری درګی
خبری را ته ووایه چی وتا ته پر
ملا کېږه او تا هیڅ ورته ونه-
کاته، ته ویلای شې چی د رود-

خانې له خروښه تا څه واورېدل
او د دریا چې په سکوت کی څه
پټ ؤ؟
زه غواړم و پوهېږم، هغه وخت

چی لمر لویږی، د شپې تیاره
خپرېږی آسمانی ستوری او
سپوږمۍ ځلیږی، په هغه وخت
کی د لمر آرزو و راختو ته یا

د سپوږمۍ امید و لوېدو ته
کوم یو شدید تر او سخت دی؟
آیا تا غوندی پردیسی ته چی
غواړی په ډېره چابکی لار پای

ته ورسوې. دور ځو روښانه
جاده، یا طوفانی شپو توره
تاریکه لاره کومه یوه سمه ده؟
دا د خاورو کوچنی، کوچنی

ذرات چی ستا لمنه ئې ګرزمنه
کړېده پخپله له تا سره راغلې
که تا دوی له ځانه سره *

د آج کل له اردو مجلې څخه

دښاغلی سربن ترجمه

د ناول اهمیت او پیدایښت په روسی ادب کی

دلتائف سکی چی د روسیې په لیکوالو کی د خپلو مبتکرو لیکنو په اثر سره ستر شهرت در لودی په بوه شفاخانه کی چی پلار ئې په هغه کی نوکرۍ پیدا شو دلږ کتې او ډیر خرڅ په اثر سره به ئې پلار

غریب هر وخت له مشکلاتو سره مخامخ ؤ او مدام به ئې وخپلو زامنو ته ویله ژوند ناسی د کوچنی والی بازی مه کئی ء د دنیا سختی مصیبتونه بیلة د تعلیم او کسب ؤ کار له لاری څخه په بل شی سره نشی اسانه کیدای ددې لیکوالکی د مور تحمل او حوصلې هم د

ژوند پر مشکلاتو باندی کوم بری نه کړ پیدا او نه ئې دده د کوچنی والی و دماغی خلل نه کومه سووانی ورسول له مجبوریت څخه به ئې د کورتو لوغرو هره ورځ دماسکو په معدنو کی کار کاوه او دی به ئې دنګهبانی له پاره بوازی په کور کی پرېښووی چنانچه

د تعلیم په وخت کی هم له دغه قید و بسط څخه نه ؤ خلاص له خپل میخایل نومی ورور سره ئې زښته ډیره مینه در لوده او په مکتب کی

ئې غیر له ده څخه له بل چا سره کار نه در لودی د ابتدائی

ښوونځی تر اکمال وروسته د پیتر برګ د انجینری و کالج ته داخل شو په ۱۸۴۳ کال کی د لیکنی ملازمت ورملاو شو

محکه چی ده به ساینس او ریاضیاتو کی تعلیم کړی ؤ X

ئې غور ولې ده په هوا او پورته کړې بیانو زه کولای شم چی

رشتیانه کولای شي چی د شپې په ظلمت، سکون او تنهائی کی د شنې باغی د ریږدېدلو له حقیقته ما خبر کړې . په زه

غواړم چی بووار دامبهمه او مجهوله پرده چی زما پر ستر کو

په هغه بن اوښا بسته باغچه کی نموزم، مګر هلته ښائی چی په نرمی او ملایمت سره د ګرځ- محي مینا دا چی د هغه بن

ښکلی غـونی او شکوفې ورژیږی !

* راوړی دی .

د بیابان د وحشی ګلونو وزمو ولی نه پرنیمی لار پرېښوولې او دوی تاسره را نغلل، یا تاو نه-

غوښتل چی د ستره وی؟ څله خپل راز و نه له ما بټوې؟ هغه شپه چی له غره نه را کوزه شوې د دښت د بوتو په منځ کی دی

کوم ورك شوی پلانه ؟ د هغی بلی ورځی مـانیام دی څه خیال ؤ چی د هغه پـوازی او ارزومند شپانه د دروی [نی]

آواز دی غلا کاوه هغه دی چانه ارمغـان ؤړ؟ هغه ورځ چی دی دیاچه بیرغ ورباوه او په یوه لحظه دی خپل ځان د هغو

بیغوا او زاره ځیری لستونی نه ورساوه، تاخه غوښته چی څه وکړې ؟

آیا کومه پلینه غلا کړې وه؟

رشتیانه کولای شي چی د شپې په ظلمت، سکون او تنهائی کی د شنې باغی د ریږدېدلو له حقیقته ما خبر کړې . په زه

غواړم چی بووار دامبهمه او مجهوله پرده چی زما پر ستر کو

ښوونځی تر اکمال وروسته د پیتر برګ د انجینری و کالج ته داخل شو په ۱۸۴۳ کال کی د لیکنی ملازمت ورملاو شو

محکه چی ده به ساینس او ریاضیاتو کی تعلیم کړی ؤ X

× وئي دتحریر او دفتری کار ه
سره چندانی دلچسپی نه درلوده
خو لیه مجبوریت څخه ئي دا
بیشه خپل د معاش وسیله

وګرزوله د ناول لیکلو د مشق
په سلسله کی ئي لومړی دغریب
سړی په نامه سره یو ناول ولیکی
چی په ادبی محافلو کی ئي

خورا مقبولیت پیدا کړی دی
دي مقبولیت ئي حوصله ورزیانه
کړه خورا ژر ئي دري
نوری افسانی هم پسي ولیکلي

او ځان ئي د پتراشفسکی د
کارکونکو په حلقه کی چی
اغلبه حصه ئي اشتراکیان او
یا داشتراکیت طرفداران وه

داخل کړ په ۱۸٤۹ کال کی
ددوی داداري و تولو محلمیانو
غړونه د اعدام کولو امر صادر
شو مګر دزار د بخښنی په اثر

سره په سائبریا کی په بامشقته
بند سره محکوم شول .

دستهٔ ئف سکی پسله څلور کاله
سخت بند څخه په زور سره په

فوج کی داخل کړه شو او
وبیتر برګ ته دتګ اجازه په

۱۸۵۹ عیسوی کال کی ورته
وشوه چه دبی ژوندئي له ورکتوبه
څخه بیا تردي وخته پوری به
اوزه سره تیریدی او حواس ئي

داسی مختل شوی وه چی د
روزی پیدا کولو په چل بیخی
نه پوهیدی بیا چی ئي لږ څه
کاربار سره سم شو وخراجی او

فضول خرچی نه ئي لاس ورته
کړ کله چی له سائبریا څخه د
وطن وخوانه راستونیدی خورا
دیر پوروری او دربدره ؤ

همدغه مجبوریت دی بیا ولیکنی
نه اړ بوست او دهغه پسورو
سپکولو نه ئي غیرله کتابو او
یا مقالو له لیکلو څخه بله وسیله

نه کړه پیدا په ۱۸٦۰ عیسوی
کال کی ئي دپکسی په نامه
سره یو ناول ولیکی او په ۱۸٦۱
ع کال کی د میخایل نومی

وروریه ملګری سره زما پنامه
یو میاشتنی مجله جاری کړه.

په دي رساله کی ئي خپل دقید
حالات په اقساطو سره شایع کړه

اود مزدورانو په طرفداری ئي
سم داشتراکیت له قوانینو سره

نشریات کوله همدغه سبب ؤ
چی دي رسالي ژر محبوبیت
پیدا کړ او د مشتر کینو شمیر
ئي وزرو نه ورسیدی .

مګر په ۱۸٦۳ کال کی دریاست
په حکم سره بنده شوه.
د ستهٔ ئف سکی بیا د یوي بلی
نوی رسالي دراایستلو انتظام

کاوه چی ناڅاپه ئي وروور مړ
شو او دهغه د کور خرچ او دیورو
ادا ینه هم دده پرذمه شوه خو
سره له دي پریشانیو ئي په

۱۸٦٤ کال کی دخینو ملګرو
په ملګری سره د [دور] په نامه
یوه ورو کی رساله راوایستله
چی له بدمرغه پسله خوشمارو

څخه دستی ریاست ورمصادره
کړه او پرده باندی ئي دبند
حکم وکړ .
مجبوره شوله روسیي څخه و

جرمنی ته وتښتیدی په ۱۸٦۵
کال کی داقتصادی مشکلاتو
له جیثه څخه بیرته وهیواد ته
ستون شو په ۱۸٦٦ کال کی

ئي د [جرم او سزا] په نامه سره
یو اثر ولیکی چی دا اثر به ښو

دپرو بیسو سره خرڅ شو او دڅه
پوروروغاره ئې په وونله مګر
د نورو پوروړو زیاتو غوښتلو
بیرته دارو یا ونګ ته اړ یوست

که ده په دې وخت کی الفیما
او استقامت څخه کار اخیستی
وای او خمار ئې نه کولای هم
به ئې پور سپک سوی وای او هم

په له دربدری او پردیسی څخه
ژغورل شوی وای .
خو په هرحال په یورپ کی ئې
دخلور کاله استوګنی په موده

کی دوه اوزده تاولو نه پوه
[مجذوب] او بل د [بوت پریت]
په نامه سره ولیکل او په ښو
دپرو بیسو سره ئې ویلورله

مګر سره له دې به ئې هروخت
ګډه وزی او بدن برمنډوو
ماندینه ئې سره له بدو عادتو د
کفایت شعاری په اثر سره وده

نه وهلی کلاوه پسله یورپ له
رانګ او په وطن کی د لس

کاله ژوندون په دوران کی له
یوې خوا څخه ئې ددغی ښځی

دښه انتظام په اثر سره مضطرب
زړه لږ څه آرام شو او له بلی

خواڅخه ئې د ۱۸۸۱ کال اوږد
لیکچر شهرت یو په دوه کړه
تو ځکه ئې جنازه په دپرشاندارو
مراسمو سره د روسیې دستور

رجالو په ګډون و خاورو نه
وسپارل شوه .
د دسته ئفسکی مزاجی کیفیتو نه
دده له تصانیفو څخه ښه ترا

څرګند پیدای شی او د هغو د
پوهېدلو دپاره دده د شخصیت
له تولو اړ خو څخه واقفیت لازم
دی په وړو کوالی کی د همزولو

له صحبت څخه محروم ؤ او په
او یوالی کی به هم له ملګرو
څخه ګوښه ګرزېدی د دې انزوا
او ګوښه ګیری وجه ئې دا نه وه

چی هغه بدایان او دی غریب ؤ
بلکه د خلګو له صحبت او ګډون
څخه ئې یو دول وار خطائی او
کر کډ د لوده او بل بیا د مهذب

ژوند له رسمو او آدابو څخه
بلکل ناواقف ؤ غیر له خپل

ورور میخایل نومی څخه ئې له
بل چا سره سات نه تیریدی او

نه ئې د زړه پټ راز ورسره
شریک ؤ . مطلب دادی چی دې

شاعر خپل طبیعت دارادې طابع
کړی نه ؤ سره له مقلسی چی په
کله بیسې به لاس ورغلی به ځایه
به ئې خرڅولی .

ملازمت چی ئې پرېښودی نو ئې
به انشاپردازی پیل و کړ او
خپل لومړنی ناول ئې د مزدور
په نامه سره ولیکی چی د ماسکو

په ادبی حلقو کی ئې ډېر قدر
وشو . تو له دې اثره څخه خلکو
وغوښتله چی له ده سره دوستانه
تعلقات قایم کړی مګر ګوښه-

ګیره طبیعت ئې د دوی د دې
تمایل چندانی استقبال و نه کړ .
وائی سره له هومره منزوی توب
او بې اطمینانی ئې په طبیعت

کی خو د پسندی هم موجوده وه
او دلږ اختلاف برداشت ئې هم
نشو ای کولای یعنی هرچا او
هرشی نه ئې د پسند کمانی په

ستر ګو سره کتل [بی ان سکی]
چی د غریب نومی ناول د اشاعت
په زمانه کی ئې د تو له روس
ادبی رهبرو هم ئې د ده د دې

ادبی ستر اثر مدحه په وار وار و
سره کړه مګر هغو راو روستو

څو افسانو ئې چندانی مقبولیت
نه کړ پیدا او نه ئې د نوموړی
ادبی قائد له طرفه څخه کوم
تعریف او توصیف وشو نو ځکه

د دسته ئفسکی له ادبی ټولنی
او دغه مشره څخه ناټ مات شو
او په هر ځای کی ئې ددوی په
شکایت سره خوله وازه کړه

څو هغه ؤ چی یو بل هم عصره
ناول لیکونکی [تورګی نیف]
نومی ئې دغریب سړی له ناول
سره سم یو بل داسی ناول ولیکی

چی عیناً له هغه سره له هره حیثه
مشابه ؤ دې وضعیت د دسته-
ئفسکی زړه داسی ورمات کړ
چی نه یوازی ئې له [تورګی-

نیف] بلکه له ټولو ادبی وګړو
سره ئې مراوده وشلوله تردې
اندازې پوری ئې بدبینی زیاته
شوې وه چی له خلکو سره ئې

پرمخ علاقه قطع کړه دا یو
معمولی کار ؤ چی ده کاوه

مګر د فضول خرڅی له وجه
څخه به تل له مالی مشکلاتو

سره مخامخ ؤ او له هغو
کسانو څخه به ئې مرسته غوښتله

چی دده به بد ځنی راتله او
شکایتونه به ئې ځنی کوله دې
کشمکش د دسته ئفسکی د
طبیعت توازن بلکل ورخراب

کړی ؤ او د بدو عادتو له حیثه
څخه د خلکو په نظر کی داسی
حقیر او خوار ؤ چی احدمن-
الناس په ښه سترګه نه ورته

کتل او ده هم دا احساس کړې وه
چی په دغه رویه سره د عزت او
اقتدار پیدا کول امکان نلری.
دعمر په آخر کی ئې ماندینې

دحرکاتو او سکناتو اداره
پخپل لاس کی واخیستله او
داسی به ئې کنترول کاوه
لکه مورو پلار چی خپل اولاد

کنترول کوی.
د دسته ئفسکی دخو یو او عاداتو
له تعمق څخه موږ ته دغه دوې
خبری په لاس راځی . او مړی

داچی احتیاج او مجبوریت دی
ولیکنی ته واداره کړ او دروسی

ادب یو ستر شخصیت شو . دوهم
داچی پخپل ادب کی ئې دخپل

سرګذشت او لرلی احتیاج
تصویر ښه ترا څرګند کړ چی

و نورو ایله ګردو کسانو ته
سرمشق شی . وایی چی ددې
لیکونکی دعمر آخیری شپې
او ورځی داداري او کنترول

دحیثه څخه ډیری سختی تېرېدی
دسته ئفسکی و خپل ورور ته
خپل د ژوند ګذارشات داسی
لیکلی دی:-

نن چی د دسمبر ۲۲ نېټه ده له ما
سره نوفسکی مخامخ شو او د
مرګ دسزا په حکم سره ئې
خبر کړم سمدستی صلیب د

موچیدو له پاره راکول شو
بیائې سپین کمیس د کفن په
غرض سره راباندی واغوستی
بیائې لاسونه ددار په لرګی

پوری راوتړله په نورو ملګرو
می هم دغه ترتیب عملی شو زه
په صف کی شپږم وم له موږ څخه
ئې هر یو یا دویشتلو او یا ددار

د پورته کولو په غرض سره
بېلاوه څو ګنټی باد زما واری

راتی او ماهم ملګرو ته دوداع
لاسونه اوږده کړې وه چی

ناڅاپه په دې حین کی و
ویشتو نکو سپاهیانو ته دوا بسی

حکم وشو زموږ پاته سوو
لاسونه ئې ددار له تمبو څخه
راخلاص کړد او دا فرمان ئې
په موږ واوراوه چې زموږ د

بخښښ له پاره صادر شوی ؤ.
وائی د دسته ئفسکی له ملګرو
څخه یو په دې حین کی لېونی
شوی ؤ او بخپله دده وضعیت هم

و لېونتوب ته نژدې ؤ، مطلب
له دې ټولو تمهیداتو څخه دادی
چې ده خپل ټوله کیفیت ټکی
په ټکی په ناولو کی ضمناً

لیکلی او دا ځنی معلومیږی چې
تر ذکر سوی حادثې وروسته ئې
هم هغه کیفیت ؤ یعنی وخپل
اصلی وضعیت ته ئې کوم تغیر

او تبدیل نه دی ور کړی فلسفه
او احساسات ئې دیوه طبیعی
انسان په څېر سره نه وه بل ئې
د میرګیانو مرض ذهنیت له

طبیعی حاله څخه اړولی او یو
نورمال انسان ئې ځنی جوړ

کړی ؤ.
خو په هر حال د دسته ئفسکی په

ناولو کی موږ ته کوم داسی
کریکټر ملاویږی چې په

همدغه مقدس مرض سره مبتلاوی.
په بهوت پربت کی یو سړی وایی
داسی معلومیږی چې زه د ټولو
کائناتو په دننی نظام خبریم.

په غبرګون کی ورته ویل
کېږی، بلې دا ډېره درسته ده
دا یو اثر لرونکی کیفیت نه دی
بلکه یو بې انتها مسرت دی

بل خو پر زړه باندی هغه نقش
تر پایه پاتیږی چې د صافو او
پاکو احساساتو له لیدنی څخه
ئې تراوش کړی وی او هر

احساس ئې یو عجیبو غریب
مسرت پیدا کوی که دا حالت
تر پنځو دقیقو پوری قایم پاته
شی زما روح به ئې تاب راوړولو

ته عاجزه شی او یقیناً به د
مرګ سوګلی ووهی و دسته
ئفسکی ته د کائناتو شکل
په دې ډول سره په نظر ورځی د

کائناتو د راز افشا دهغه په
فلسفه کی ډېر لوړ اهمیت لری.

نو تاسی قضاوت وکړی چې ددې
حالاتو اظهار د ناجوړی یو

کیفیت نه دی نو څه دی؟ دسته
ئفسکی چې د حقیقت کوم تلاش

کړیدی هغه له خارجی ژوند
او د باندنیو اثراتو سره ډېر لږ
تعلق لری نو ځکه ئې په ناولو
کی د واقعاتو ډېر لږ ذکر راغلی

دی مګر د انسان د دننیو کیفیتو
بیان په تفصیل سره سویدی او
اصرار ئې په دې مورد کی د
ناول پر ټوله فضا باندی احاطه

کړیده او له دې څخه دا معلو-
میږی چې دده په زعم له دې څخه
سیوا د هستی کوم بل اړخ نشته
په ورځنی ژوند کی هغه کیفیتونه

چې دسته ئفسکی په ناولو کی
معمولی ګڼل شویدی شاذ او نادر
دی د عظمت منکرین ئې لېونی
شکسپیر بولی د دوی داوینا تر

یو حده پوری صحیحه ده ولی
چې دی لیکونکی د نفسیاتو په
علم کی ډېر معلومات اضافه
کړیدی او د دې علم د عالمانو د

خو یو ماهیت ئې و تصانیفو ته ډېر
مدد رسولی دی د دهرې شخصیت

مظهر تر ټولو تصنیفو دده په
تصنیف کی ډېر په نظر رسیږی

د نفسیاتو ماهرانو چې بسله

[نور د ۲۷ مخ په پای کی]

لیکونکی: محمد موسی «معروفی»
د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځی محصل

و ټولنو ته د تحول د راتلو ستر علتونه

د تاریخ پاڼی موږ ته دا ښکاره او څرګندوی چی انسان د پیدایښت له ابتدا څخه د تحول، تطور او یو رنګ بل رنګ اخیستلو سره مخامخ دی چی وغوره او فایده منو تحولاتو ته نهضت (کډه کول له یو حال څخه و بل حال ته) او بد بدلون په مسخ (مخ ګرزېده یوه بدحال ته) وائی چی د مسخ څخه مراد هغه قهقرائی تګ وی چی ځینی انسانان د کوم نارواغرض، ناعاقبت اندیشی یا نا پوهی په نسبت د پرمختګ په عوض یو بدوی حرکت کوی مثلاً د لویو د لویو دولتو له خوا د استعماری مکتبو او استعماری دامو را ایستل کاملا یو د پرمختګ او بشری نهضت سره نقیض حرکت ؤ غیر له دې څخه چی بشری ټولنو ته د انکشاف او اقتصادی، اجتماعی او کلتوری ارتقا زمینه وغوړوی هغوی ئې د ژوندانه د سختیو او ناوړو مشکلاتو سره لاس په لستونی کړل همدا رنګه په ځینو ټولنو کی د مذهب کلی تضعیف او یا امحاء چی د انسانانو د معنوی بنیې تقویه کونکی او د فداکاری او بشر دوستی د عواطفو ټینګونکی دی د پورته خبرو یو مثال دی.

دامخ یعنی د نهضت سره نقیض حرکت هم د استعماری او هم د مستعمرو ملکو په نقص او ضرر تمام شو یدی لکه څرنګه چی د لویو ملکو په منځ کی ئې رقابتی او تسلیحاتی بازار تود کړی چی اوس ئې د چاری وسنجولو ته ګوتی په زنه ناست دی.

خیر، خو تحول چی د هر ډوله څخه وی کله د کمیت او کیفیت په لحاظ ؤ ړیا لوی وی مثلاً د یوې تجربې یا انتباه یا کوم بل عامل په سبب که د کوم سړی ذهنی محتویات (افکار) عقائد خیالات او تصورات بدلون کوی نو یدې ډول هغه تحول ډېروړ یعنی په یوه شخص یا وړې ډلی پوری اړه لری. او هم څرنګه چی نتیجه ئې د نوعیت، تاثیر ورانوالی او یا ښه والی او بد والی په اثر مختلف وی نو

د ناول اهمیت. پاته برخه

دې څخه دده په متعلق کوم معلومات کړ یدی هغه صرف دده د بیان تصدیق او د دهری شخصیت یو مثال دی د سته ئف سکی د ناچوړی په بهانه سره د انسانی نفس په زرو رازونه فاش کړی دی او د حقیقت پر ناوړو اړخو باندی پرده اچول د نفس د حفاظت په ډول د انسان جبلی خواهش دی د علم خاوندان له دې حقیقته څخه له دې حیثه واقف نه دی چی دا رازونه تر انسانی شخصیت لاندی پټ دی او احساس ئې د وجدان په ذریعه سره کېږی حکم و هغه ته رسائی نه لری.

تحولات د کیفیت له رویه هم
توله یوشانته نه وی مګر زموږ
بحث پر هغو کلی تحولاتو را
څرخی کوم چی په عمومی ډول

په ټولو مدنی انسانانو پوری
اړه لری لکه لوی اقتصادی
اجتماعی تجملی او نور تحولات.
دلته باید وویل شی چی د تحول

دمخه یوه بله ځینه هم وجود لری
چی اصلاح او سمون باله شی.
زه فکر کوم چی هر شی که
تحول کوی په اولو مرحلو کی

کرار کرار اصلاح کېږی تر
څو چی یو کامل تحول ئې په
نصیب کېږی.
[البته زموږ مقصد نهضتی

تحول دی].
مثلا کله چی په ادبیاتو کی
کلاسیک سبک دخپل تعصب او
تنګ چارچوب په نسبت هنر-

مندان بېزی ته راوستل نو
دوی ورو ورو دهغه په تصحیح

اود خالیګاؤ په ډکولو پسې
شول تر څو چی رومانتیک

ریالستیک او نور سبکونه چی
ادبی تحول په هغو کی واضح

ښکاره کېږی منځ ته راغلل.
پاته دی نشی چی تحول کله د
طبیعی پیښو او قوانینو او کله
بیا د بشر دخپل تکاملی فطرت

آزاده وی چی پدې صورت
ویلای شو ځینی تحولات انسا-
نانو له ارادې خارج دی د مثل
په توګه د حیواناتو او نباتاتو

د شکل بدلون یادوو.
اوس به نو هغه ستر علتونه چی
تحولات راوړی لاندی ذکر
کړو.

۱- اقتصادی علت

لکه څرنګه چی دا یو حقیقت
دی په نړۍ کی دهری پیښی یو

مهم علت اقتصاد دی همدارنګه
دا حقیقت زموږ د مطلوب سره
هم سرخوری.
هره ټولنه غواړی چی دخپلو

افرادو د معیشت د پاره یوه سمه
لار و مومی او هم دهغو د سعادت

او آرامی عوامل راغونډ او
اجتماعی عدالت پکښی خپور

کړی. ځکه تر څو چی ټولنی
اقتصادی تقویه او وقایه نه وی

او دهغو افراد دخپل معیشت او
ګذران او د ضروری موادو د
تهیې له نقطه نظر څخه ویو آسوده
ژوند ته خوشبین نه وی خامخا

چور، چپاول، اجتماعی عدالت
ورانی، غلا، قتل و قتال او
بالاخره راز، راز اړو دوړو ته
پیدا کوی.

څرنګه چی څو بېړۍ ترمخه
انګریزان په نړۍ کی دیوه
ګوښه او وروسته پاته قوم په نامه
یادېدل. خو اوس د اقتصادی

تقویې او اجتماعی تحولاتو په
نسبت په نړۍ کی دلویو دولتو
په کتار کی ولاړ دی چی پدې
ډول د انسان د آرام او باوقاره

ژوند کولو د پاره اقتصاد دیو
علت په توګه ټولنو ته راز، راز
اقتصادی تحولات راولی چی
که موږ د کمون

له جامعې څخه بیا
تر فوډالیزم، بورژوازیانو،

فزیوکراتانو، کپټلستانو
او مارکسیستانو پوری ټول حالات

وګورو، نو رښتیا معلومیږی
چی اقتصاد هغه لومړی علت دی

کوم چې بشرته ئې بېل، بېل بدلونونه راوړيدي .

۲- اجتماعي علت

ارسطو وائي: [انسان يو اجتماعي حيوان دي] انسان د خپل فطرت په مطابق ديوازي ژوندون څخه متنفر او يوګډ ژوندون ته رغبت لري . خو د بده مرغه بدې ګډ ژوندون کولو کې ډېرو بااستعدادو او قوي کسانو د ساده او ضعيفو خلګو له سويې څخه ګټه اخيستې او دوی ئې همېشه دخپلې ګټې دخدمت او شاقه کارو د کولو دپاره استثمار او په کار اچولي دي چې بدې ډول په ټولنو کې دمختلفو طبقو جوړښت حتمي شويدي . د توتيسم [د بدوي قومونو اجتماعي او مذهبي کرکټر] له مطالعې څخه ښکاري چې دا اجتماعي طبقې او دهغو ترمينځ امتيازات دلږ بدوي انسانانو له ژوند څخه راشروع بيا تر اوسه پوري جريان لري چې په اوسني حال کې د جنوبي افريقا طبقاتي رجحانونه زموږ دخبرې دپاره ژوندي مثال دي . نو اقويا د ضعفاؤ د استعمار او کمزوري دغوښتلو سره دمجادلې او دخپلو امتيازاتو داخيستلو دپاره يو دبل سره په مجادله بوخت دي چې کله ئې ضررنا که کله ئې ګټور اجتماعي بدلونونه منځ ته راوړي دي .

۳- کلتوري علت

موږ چې کوم مفهومونه د کلتور يا ثقافت له لغت څخه اخلو هغه پر عرف، عنعناتو، مذهب، ژبه نژاد، اخلاق، عقائد، معارف ادب، موسيقي، آرټ، صنعت تجارت، زراعت، عمرانـاتو سپورټ او نورو باندې بنا دي [فرانه بوام]: کلتور او مدنيت لوی عالم وائي: چې د کلتور او مدنيت او اقتصاد د علم په اصطلاح ټوله هغه شيان چې په نړۍ کې وجود لري هغو ته سرمايه وايي . مقصد دا چې کومه سرمايه چې انسانان ئې لري دهغو د کلتور او فرهنګ نماينده او ښکاره کونکي دي . د نړۍ مختلف قومونه تر مختلفو جوی، اقليمي جغرافيوي او منطقوي شرائطو لاندې راز، راز ثقافتونه لري چې کله د يوه قوم او کله د بلې ډلې مدنيت د نيا په خپلو شهرتونو د کوي کله سومريان، اسوريان کلدانيان، مصريان، فنيقيان او بابليان کله بيا چينيان روميان او اروپائيان د مدنيت له رويه تر نورو دمخه کېږي .

دمخه موږ ويل چې عرف، عنعنات او عقائد او اخلاق په کلتور کې ډېر دخيل دي نو واضح ده چې ځينې رسومات او عقائد داسې دانسانانو افکار اشغال او ورانوي چې د هر ډول ترقي علمدوستي، معارف او نورو څخه ئې بېرته اچوي چې بيا د هغو عنعناتو خاوندان د داسې ناوړو دودو او خرافاتو په ور کولو او دهغو په پرېښوولو کې هڅه او شروع کوي د علم تبليغ او نورو لارو څخه دهغو په اصطلاح او يا ترک کولو بسې

کېږي . کله بیا د ځینو مقیدو
دودو په لاتینګولو او امتداد
کې زیارونه باسي عین تردې
چې هغه لا په اساسي قوانینو کې

هم داخلوي چې د ځان د رفاه
د پاره هغه اصلاح او وربسې په
لوی تحول بدل کړي . همدارنګه
مذهب چې د اجتماعي امنیت

او عدالت د تامینولو د پاره منځ
ته راځي وروسته تر تطبیقولو
او مثبتي یا منفي نتیجې ورکولو
څخه هلته قائم مقام او یا ایسته

کېږي .
د بله طرفه وینو چې مستظرفه
صنایع [نقاشي ، سنګتراشي
رسامي ، موسیقي او نور] چې د

یوه طرفه د اقوامو د کلتور معرف
او د بل پلوه د هغو تفننې او تجملي
ذوق ښکاره کوي نو د دې د پاره
چې د دوی ذوق او آرزوګانې

ښه تر سره سي او هم په نړۍ کې
د هغوی د معرفي شهرت ، علمي

او مدني نفوذ ، د تجارتي بازار
ګرمولو او د سیاحینو د جلبولو

سبب وګرزي د خپلو خاوندانو
له خوا څخه یو ارتقائي سیر طي

کولو ته اړ کېږي چې په نقاشي
سنګتراشي او موسیقي کې د
کوبیسم ، فوتوریسم ، سورئالیسم
اکسپرسیونیسم د ستا پلو راتلل

کاملا د یوه کلتوري تحول
څخه حکایت کوي .
همدارنګه ادبیات چې د یو قوم
احساسات ، تصورات ، تخیلات

واقعات او روحیات ښکاره کوي
او هم د ټولنې د اصلاح او راز
راز تبلیغاتو او د اذهانو د تنویر
د پاره د انسانانو د ژوند مهم

مکمل دی د زمان او مکان د
شرائطو سره سم هر وخت و تحول
ته اړوي چنانچه د کلاسیک سبک
چې د یونان څخه شروع سو

رومانتیک سبک چې په نولسه
پېړۍ کې لومړی د فرانسې
څخه شروع وروسته په المان
انګلستان او روسیه کې پسې

تعقیب سو . همدارنګه د رئالیسم
نیچورالیسم ، امیرسیونیسم

سبکونه د اموږ ته بریښوي چې
کله په ګډه په یوه وخت کې د

ټولو ملتو او یا یوازې د یوه
ملت ثقافت په ټولنو کې د نحو-

لاتو باعث ګرزي .

۴- سیاسي علت

دولتونه چې د خپل قلمرو

موقعیت ، نفوس ، طبیعي منابعو
د نفوسو د ذکاوت او استعداد او
ساحوي صلاحیت او نورو له
رویه مختلف دي ځینې د اقلیت

او بعضي بیا د لویو دولتو په شمېر
کې راځي نو طبعاً د خپل اقتدار
او سورنیټي له کبله هم ځینې
زورور او ځینې ډېر یا لږ یو وزري

وي . نو دولتونه د خپل داخلي
اقتدار د تطبیق او جوړ سوو
قوانینو د داخلي امنیت د ساتنې
د پاره له یوې خوا او د خپلې

خاوري د آزادي او عالي اقتدار
د ساتنې ، مداومت او پېژندنې
د پاره له بله پلوه مختلف د سیاسي
اداري راز ، راز ډولونه منځ ته

راوړي . پدې حال کې هغه
هیوادونه چې په خپلو داخلي

او خارجي پیښو کې ناکام شوي
دي د نورو تر تعرض او تېري

لاندې راغلي دي . که څه هم د
ځینو سیاست پوهانو په نظریه

داوسنی تکاملی دولتو جوړښت
ډېر نوی دی خو په پخوانیو
ټولنو او قومو کی چی
بین المللی او عمومی مناسبات

ډېر ټینګ او هر دولت په ځان
اخته ؤ لکه د یونان ښاری
دولتونه چی د هغو ټول سیاسی
تشکیلات په یوه محدوده ساحه

پوری مربوط وه مګر وروسته
له هغه دغه ارتباط نسبتا متکامل
شکل اخستی د روم امپراطوری
ئې منځ ته راوړه همدغه راز

دغه سیاسی تشکیلاتو د مسیحیت
د ظهور سره یو نوی رنګ اختیار
کړ او د پاپ سیاسی قدرت ئې
موجود کی چی د موضوع د

اوږدوالی په نسبت له تشریح
څخه ځان ژغورم خو دومره
وایم چی د مختلفو سیاسی قدرتو
تر کشمکشو او د فؤډالیزم

او وریسې د او بسولو تیزم تر
ظهور وروسته سیاسی فلسفې

په دوو متخاصمو فلسفو د
سوسیالیزم او کپټلزم تحول او

ارتقا وکړه اما د بشر د بوره
امنیت او د تباهی څخه ژغورلو

د پاره نور هم د سیاسی سیستمونو
و تحول او تکامل ته اړتیا
لیدل کېږی .

۵- مجادلوی علت

پوهېږو چی په ټولو مضامینو
کی د تصنیف او کتګوریانو
مقصد د مسائلو اسانه درک او

ژر پوهېدل دی نو دلته که څه
هم د طبیعی عوارضو سره
مجادله د ثقافت تر عنوان لاندی
څېړل کېدای سوای مګر د

موضوع د تجرد او تجزیې په
لحاظ مودیو جدا علت په حیث
قبول کړ .
د اختراع، ایجاد، بداعت او

ابتکار قوه چی یوازی د انسان
د نوعی په برخه دی تل انسانان
کامیابه کړی دی چی په هره-
خوا کی باید پر یوه اولنی

بدوی شی باندی قناعت او
کفایت ونه کړی . د تیږی له

دورې څخه بیا تر فلزی دورې
او بالاخره تر اوسه انسانانو

کوښښ کړی دی او کوی ئې
چی د طبیعی پېښو سره د مجادلې

په لار کی نوی وسائل اختراع
کړی او پدې وسیله طبیعت
ځانته تسخیر او استخدام کړی
ډول، ډول وسیلې او نقلیاتی

مځکنی، بحری، هوائی وسائل
دلارو دلنډولو او دلیرو او
نژدو منطقو د مښلولو د پاره
فلاحتی او زراعتی ماشینونه

داوبو لګولو، درشو (غلجاتو)
د ژر رسېدو د پاره دواګانی
د انسانانو د صحت او د مضرو
حشراتو او خزندو د ورکولو

د پاره همدا ډول د لګولو او
تودولو یا پخولو او زارونه او
نور ډېر، ډېر شیان د دې مقصد
د پاره منځ ته راوړه شوی دی

ماسوا له دې څخه تسلیحاتی
او حربی آلات هم یا د خپل
امنیت او یا پرنورو د غلبې په
غرض جوړېږی چی په هر

صورت اوسنی انسانان د
تحول او تجهیز په لحاظ د

خپلو اولنیو نیکه ګانو سره
هیڅ نشی پرتله کېدای .

د چینی ادبیاتو څخه:

ژباړونکی؛ محمد احسان «کارګر»

سور ګل

یوه زړه وره ښکلې ښځه د پنجرې له څنګه ناسته، په ډېره خواشینی او ناامیدۍ سره ئې د وریښمین بالښت مخ ګلدوزی کاوه، ناڅاپه ئې په ګوته ستن ننوتلې، له هغه څخه دوه څاڅکی وینی د بالښت پر سپین ګل باندی توی سوه او هغه ئې د سور ګل په بڼه واړاوه. اوه! ښځی یو سوړ آه کښلی، د خپل محبوب په یاد کی شوه او دائې په زړه کی ګرزی چی دا د جنګ په میدان کی ده او ښائی همدا اوس د هغې وینی سپینی واوری سرې کړی وی.

ناڅاپه سرپورته کوی او له لیری څخه د آس د پښو زغ وغوږ وته رسیږی، ښائی محبوب به ئې بېرته راګرزېدلی وی؟ اما ژر پوهیږی چی محبوب ئې نه دی راګرزېدلی، ځکه د غه زغ د دې د زړه دی. چی په ناآرامه توګه ئې په سینه کی غورځی.

وروسته بیا د وریښمین بالښت شاوخوا توله په سپینو وریښمو ګنډی، ځکه د دې څو څاڅکی اوښکی د هغه توکر پر ګلانو څڅېدلې وې.

هغه تللې ده

نور نو ماته د سرو ګلانو او شنې سبزې سوغات مه راوړه. آیا خبر نه یې؟ چی زه خپل مین هېره کړې یم.

اوس نو وماته فقط د ګلانو وچی پاڼی د ارمغان په ډول راکړیء.

زه خپل مین پرې ایښی او نن شپه هر کله چی لمر د غرونو ترشاپټ شی، شنه جامه به واغوندم او مخ به پر صحرا ونیسم.

څو د هغو ګلانو په منځ کی چی زما د ښکلی محبوب خوښ وه په ژړا، ژړا خپلی اوښکی لکه سپینی مرغلری د نښی په ډول هلته توی کړم.

د فکر پلوشې

په دنیا کی دوه قدرته سته: یو توره . بل فکر . ډېر وخت توره تر فکر مغلوبه سوې ده .

«افلاطون»

عقل یو قوه ده چی دنیا اداره کوی .

«امرسون»

له انسان څخه کـه عقل واخلی، بل نـو هیڅ مهم او قیمتی شی وده ته نه ور پاتیږی .

«هامیلتون»

رانلونکی وخت په هغو کسانو پوری اړه لری چی ذ هغه آرزو او پر هغه باندی یقین لری .

«اتاتورك»

ازادی هغه می دی چی زر کـه ئې د بد مستۍ دپاره، او یو سړی ئې ذ سر مستی دپاره خوری .

«....»

یوازی هغه خلک لوړ دی چی د علم او پوهی عاشقان وی، نه هغه خلک چی د علم او پوهی سوداګران وی .

«.....»

د ډېرو خلکو دپاره آزادی ذ دکان سرمایه ده، او د یوه سړی دپاره د روح سرمایه ده .

«.....»

اې هغه سړیه چی د خپلی هوسائی په فکر یې لـه نورو څخه ولی هوسائی منع کوې .

«.....»

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

(OCTOBER-AND-NOVEMBER) 1962

GOVERNMENTAL PRESS